

# شهيد ډاکتر نجيب الله لنډه پيژندګلوئ

**محترم نجيب الله د اختر محمد زوی د ۱۳۲۵ کال د اسد د مياشتې په ۱۵ نيټه د کابل په «مراد خانيو» کې په يوی مسلمان ديندارى پښتنې کورنۍ کې زيږيدلی دی  او په ۱۳۳۱ کال کی يی خپله لومړنۍ زده کړه د کابل د ده افغانانو په ابتدايي ښوونځی کې پيل او په ۱۳۴۲ کال يې د کابل د «حبيبيی» ليسی څخه په اعلی درجه بکوريا لاس ته راوړه.**

**په ۱۳۴٤ کال کې د کابل پوهنتون په «M.P.C.B» کورس کې شامل شو، د دغه کورس په بری سره تر بشپړيدو وروسته په پوهنځی کې شامل شو.**

**په ۱۳۴٤ کال کې کله چی لا د «M.P.C.B» د کورس محصل ؤو، عملي سياست ته يې ودانګل.  د همدغه کال په بهير کې ؤ چې د همدی کورس د دری سؤو څخه زياتو زده کوؤنکو هغه د حکومت سره د خبرو لپاره د هغه کړکيچ په هکله چی د عقرب د مياشتې د دريمې ورځې په پايله کې پيدا شوی ؤو، د کانديدولونه وروسته وټاکه.  په دغه وخت کې نجيب الله لا د هيڅ يوه سياسی بهير غړی نه وو.  وروسته بيا هغه د ۱۳۴٤ کال د جدي په مياشت کې د افغانستان د خلک د دموکراتيک ګوند غړيتوب تر لاسه کړ.**

Paiyam.com www.paiyam.com

د خپل ګوند په نمايندګۍ يې په مظاهرو، غونډو او ميټنګونو کې فعاله ونډه اخيسته او د دغه دوران د پښتو او دري ژبو يو پياوړی او سر ايستلی ویاند ؤ. په پښتو او دري ژبو يې رواني خبری کولی او په انګليسی او اردو ژبو هم پوهيده. د پوهنتون په ټول تحصلي ژوند کې د داکتر نجيب الله له نوم سره ځوانان آشنا ؤ او مينه يې ورسره لرله.

له يو شمير نورو محصلينو سره يې د ۱۳٤۸ کال په اوله نيمايي کې په سياست کې د فعالي برخي اخييستني له امله څلور مياشتي بندي شو. ۱۳٤۸ کال د افغانستان په تاريخ کې د مظاهرو او اعتصابونو د کال په نوم شهرت لري.

يو ځل بيا محترم نجيب الله له يو شمير نورو محصلينو سره د ۱۳٤۹ کال د جدي په مياشت کې له دی امله پوره ۹ مياشتي بندي شو چې د کابل د ښاريانو له خوا د امريکا د جمهور رئيس ريچارد نکسن د معاون سپيرو اګنيو په موټر چې د افغانستان د حکومت ميلمه ؤو د خوسا هګيو ګزارونه وشول او د هغه مخې ته د امريکی بيرغ وسوځول شو.

دوه ځله بندي کيدلو هغه د نورمال تحصلي بهير څخه دري کاله شاته وغورځاوه.

په ۱۳٥٤ کې د کابل پوهنتون د طب له پوهنځي نه فارغ شو او ورپسي يې د قرغی د احتياطو د ضابطانو په غنډ کې ٦ مياشتي د عسکري خدمت سر ته رسولی دی.

د ۱۳٥٦ کال د اسد په مياشت کې يې د افغانستان د خلک د دموکراتيک ګوند د مرکزی کميتی غړيتوب تر لاسه کړ او د کابل ښار د ښاري ګوندي کميتی مشر وټاکل شو.

په ۱۳٥۳ کال کې يې واده کری او دری لونی د هيلی، اونی او مسکا په نومونو لري. هغه د ۱۳٥۷ کال د ثور د مياشتي له بدلون نه وروسته، په داسي حال کې چې د کابل ښار د ګوندي کميتی منشی ؤ، د کابل ولايت دولتی کميتی مسئوليت يې هم په غاړه درلود. له رژيم سره د سياسی اختلاف په وجه د ۱۳٥۷ کال د سرطان په مياشت کې په ايران کې د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت د لوی سفير په حيث وګمارل شو او وروسته بيا د همدغه کال د ميزان د مياشتي په نيمايي کې له رژيم سره د سياسي اختلاف د ژوروالي له امله د سفارت له وظيفی څخه ګوښه کړی شو. د همدې اختلاف له مخی اول (يوګوسلاويی) بيا (فرانسي) او بيا بيرته (يوګوسلاويی) ته ولاړ. شهيدنجيب اله د ۱۳٥۸ کال د جدي د مياشتي په ۲۱ مه نيټه بيرته خپل وطن ته راستون شو او د دولتی خدمتونو د اطلاعاتو د رئيس په توګه وټاکل شو او د دی تر څنګ يې د قبائيلي چارو د سمون د کميسيون مسئوليت هم په غاړه درلود.

د ۱۳٦۰ کال د اسد په مياشت کې يې د ګوند د مرکزي کميتی په يوه پراخه غونډه کې د ا.خ. د. ګ. د سياسی دفتر غړيتوب تر لاسه کړ.

محترم ډاکتر نجيب الله دخپل دوران يو سر ايستلی وياند او سياست پوه ؤ . دده په وينا عام خلک ښه يو هيدل او په خلکو کی يی ژوره جاذبه لرله. محترم نجيب الله دخپل وطن او خلکو زړه ورسپاهی ، مهربان ، صابر ، استوار او ديو پيش بين او نوښت ګر شخصيت خاوند ؤ. هغه لکه په کوم ډول چه خلکو ته يی لارښوونه کوله ، دخلکو او شرايطو څخه يی زده کړه هم کوله . دهمدغی زده کړی په نتيجه کی ؤ چه هغه د۱۳٦٤ کال په اوږدو کي دافغانستان دبحران دحل دپاره دکورنی او بهرنی وضعی دعينی کرکتني او تجزيي نه وروسته ځان ته معينی طرحی او نظريه پيدا کړی وه . دغه نظريه چي وروسته بيا په ګوند او خلکوکي په يو فکري خط بدله شوه ـ دايديولوژيکي چوکاټونو نه فاصله نيول

Paiyam.com www.paiyam.com

او په عمل کې دتیرو تپل شوو ایدیالوژیکي چوکاټونو پرېښوول، په سوله ییز ډول د افغانستان دلانجی حل، په جګړه کې دښکیلو خوا و تر مینځ د دیا لوګ او خبرواترو لاره پرانستل، دافغانستان څخه د شوروي دنظامیانو دوتلو دپاره زمینه برابرول، دسیاسي پلورالیزم پر بنسټ ددموکراسی رواج او په عمل کی پلی کول ـ دغه نظریه دډاکتر نجیب الله له خوا دګوند دسیاسی دفتر په غونډوکي او همدا راز دشوروی دوخت مقاماتوته په هر اړ خیزه ډول توضیح شوی وه او همدا راز یي دشوروي دوخت مقاماتو ته په ښکاره ویلي ؤ چي دغه نوی سیاسی دریځ به د اړینو بدلونونو سره غبرګ د دواړو هیوادونو په ګټه وي .

محترم نجیب الله د۱۳٦٤ کال دحوت دمیاشتی په پیل کي ددولتی خدمتونو له اطلا عاتی اداری نه ګوښه کړی شو او د دی سره دګوند دمرکزی کمیتی د دارالانشاء دمنشی په توګه او بیا د۱۳٦٥ کال د ثور دمیاشتی په ١٤ مه نیته دګوند په اتلسم فوق العاده پلنوم کي دګوند دعمومی منشی په توګه وټاکل شو .

ددی نوی مشرتابه له ټاکلو سره سم دګوند ی او دولتی سیاست لور بدل شو . ډاکتر نجیب الله وروسته له دی چی د ګوند عمومی منشی وټاکل شو ، دخلکو دغوښتنو او دګوند په لیکو کی د سالم تفکر دخاوندانو په پلوي او دهیواد دعینی واقعیتونو پر بنسټ خپله طرحه چي په حقیقت کي دشخړو د هوارولو نوی لاره وه او دژوری انسانی محتوی په لرلو سره، له جګړی نه دافغانانو دژغورولو او دتلپاتی سولی ور په برخه کولو یواځنی لاره وه، د۱۳٦٥ کال دجدی دمیاشتی په ۱۳ مه نیته په ګوندی جلسه کي دیو ستراتیژیک هدف په توګه وړاندی کړه، چي په پای کی دغونډی دګډونکو له خوا تصویب شوه، او دهمدغی ورځی دغرمی نه وروسته په یوی درندی افغانی غونډه کي چه سر ایستلی ګوندی او غیر ګوندی مشران په کي راټول شوی ؤ، دملی روغی جوړی دغه رغنده نوښت ګر سیاست د ډاکتر نجیب اله له خوا رسماً اعلان شو. او په عمل کي د ۱۳٦٥ کال دجدی په ۲٥ مه نیته یو اړخیز اوربند یي اعلان او د دغی انسانی مشی پلی کیدل یی پیل کړل. همدا ډول د نوی سیاست څخه په پیروی دهمدغه کال د دلوی دمیاشتی په لومړی نیټه دسیاسی بندیانو دآزادولو په هکله د ډاکتر نجیب الله له خوا دبښنی عمومی فرمان صادر شو، چي دهغه په اساس په زر ګونو بندیان خوشی کړی شول. دملی روغی جوړی سیاست هغه وخت په لاندنیو څلورو ستنو ولاړ ؤ :

۱ ـ له یوځی پلوه په ټول افغانستان کي دسولی بسیا کیدل (یعنی دوسلی ټولول او یوی قانونی افغانی مرجع ته ورسپارل .)

۲ ـ په سیاسی ډګر کی ائتلاف ، سیاسی پلورالیزم، دموکراسی او پراخ بنسټه حقوقی اداره جوړول .

۳ ـ له اقتصادی اجتماعی پلوه د اقتصاد دټولو ډولونو همزمان ممکنه وده او پر مختیا او دآزاد بازار د اقتصادی سیستم غښتنوالی .

٤ ـ دملی روغی جوړی په برنامه کی دری مسئلی دړومبنی عملی اقدام په توګه په ګوته شوی وی

الف ـ یو شپږ میاشتنی یو اړخیز اوربند .

ب ـ دوسله وال اپوزیسون په ګډون « دملی وحدت حکومت » تشکیل .

ج ـ تقریباً دپنځه میلیونو په شا او خوا کی دافغانی مهاجرینو له پاکستان او ایران نه بیرته خپل هیواد ته ستنیدل .

Paiyam.com www.paiyam.com

ددی سیاست معنی داوه چي د افغانانوتر منځ دويني تويو لو او د ورور وژنی بهير پای ته ورسيږی، خپل منځی مشکلات دتيريدنی او ګذشت په روحيه دافغانانو دخپل منځی ديالوګ له لاری دحل امکان  پيدا کړی، دقدرت له يو اړخيز انحصار نه ډډه وشي او يوه پراخ بنسټه ملی اداره جوړه شي او داسي فضا رامنځ ته شي چه ټول افغانان په خپله دآزادو ټولټاکنو له لاری دخپل برخليک د ټاکلو وس پيدا کړی . د ډاکټر نجيب الله د سياست  ډيلي کولو په پايله کي وؤ چي  دنوی  اساسی قانون مسوده د۱۳٦٦ کال دسر طان په مياشت کي خپره شو او دمخالفينو په شمول دټولو خلکو څخه غوښتنه وشوه چي په دغه مسوده کي دتغيير او بدلون په هکله خپل رغنده نظريات داساسی قانون کميسيون ته ورواستوي.

څومياشتی وروسته دنوی اساسی قانون په مسوده باندی دبحث، تأ ييد او تصويب لپاره دټول افغانستان نه عنعنوی لويه جرګه دکابل تاريخی ښارته راوبلل شوه، پدی ترتيب دنوی اساسی قانون مسوده له يو لړ تغييراتو او بدلونونونه وروسته دلويی جرګی دبرخه والو له خوا دقوس دمياشتی په  نهمه نيټه د رايو په اتفاق تصويب شوه .  همدا ډول دنوی اساسی قانون د حکمونوله مخی دلويی جرګی دبرخه والو له خوا، ډاکتر نجيب الله د رايو په اتفاق دافغانستان دجمهور رئيس په توګه وټاکل شو .

دملی روغی جوړی دسياست بله ستره بريا د۱۳٦۷ کال دحمل دمياشتی په ۲٤ مه نيټه دژنيو دتړونونولاسليک کوَل ؤ چي دهغو په بنسټ دپخوانی شوروی پوځونو ته بيرته خپل هيواد ته دبشپړ ستنيدو لپاره لاره هواره شوه . شهيد نجيب الله د دلوی دمياشتی ۲۷مه نيټه چي دافغانستان څخه دروسی پوځيانو دوتلو د ورځی سره مصادفه وه  دملی نجات ورځ اعلان کړه. شهيدنجيب اله د۱۳٦۹ کال دسرطان دمياشتی په شپږ مه نيټه دګوند دوديمی کنګری په ترځ کي دګوند دعمومی منشی په توګه يوځل بيا وټاکل شو .  په همدغه کنګره کي دګوند په کړنلاری اوګوندی ژوندکي ژور بدلونونه رامنځ ته شول.

ګوند د کليشه يی او دوچو ايديولوژيکی شعار ونو څخه دوطن دخلکو دغوښتنو په بنسټ، درينتنی دموکراسی، دجنګ جګړی دعملی ختميدو اوملی مصلحت ډيلي کولو په لور ګذار وکړ .

دګوند نوم د«وطن ګوند» تصويب شو او دغه ګوند نور دتل لپاره دبنياد ګری  او غير عملی شعارونوسره مخه ښه وکړه
.
۱۳۷۰کال دشهيد نجيب الله او دهغه دملی روغی جوړی دسياست دپلويانو لپاره دسختو ازمايښتونوکال ؤ .
ډاکتر نجيب اله پراخ، نوښتګر او هدفمن اقدامات تر سره کول، په ګوند کي يي دروغی جوړی تګ لاره په نوی روحيی سره سمبال کړه، دملګرو ملتونو د دفتر تر مستقيمی سر پرستی لاندی او دهغوی په ضمانت دقدرت دويش اويا بی طرفه شوری ته د لېږدولو ميکانيزم دخبرواترو مهمه موضوع وه، د دغو خبرواترو رغنده نتايج دملګرو ملتونو په پنځه فقره ييز پلان کي انعکاس وموند.  ټول تدبيرونه په چټکه توګه سرته رسيدل اود۱۳ کلنی جګړی له ناورين نه ستړي افغانان دهميشنی سولی دبری لورته سترګی په لاره ؤ .

ډاکتر نجيب الله دملګرو ملتونو دجنرال سکرتر پطروس غالی دغوښتنی په اساس اود هغه د ځانګړي استازي اومرستيال بنين سيوان  دپنځه فقره ايز پلان له مخی ددولتی واک نه دګوښه کيدو او دقدرت دليږدولو دژمنی په هکله د ۱۳۷۰ کال دحوت دمياشتی په ۲۷ مه نيټه خپله تاريخی اعلاميه صادره کړه، پدی ترتيب دملی روغی جوړی په لارکي ټولی بهانی اوخندونه عملاً ايسته شول.  شهيد ډاکتر نجيب الله دملی روغی جوړی دسياست اود

Paiyam.com www.paiyam.com

ملګرو ملتونو دپنځه فقره ایز پلان دپوره عملی کیدو لپاره پخپل ټول توان او پوره ریښتینوالی او وفاداری کار وکړ .
څو دملی روغی جوړی لاس ته راوړنی اوپه افغانستان کی دسولی دبهیر ګړندي کیدل، چې په نتیجه کې به په افغانستان کې دانتخاباتو له لاری یو پیاوړی ملی حکومت رامنځ ته شوی وای، ګاونډیو هیوادونو هر یوه دخپلو مغرضانه اهدافو له زاویي څخه داسی یو مرکزی پیاړی حکومت په افغانستان کې دخپلو ګټو سره په ټکرکی لیده. په همدغه لحاظ ؤ چې دملګرو ملتونو دسولی دپنځه فقره ایز پلان د ناکامولو هڅی یې پیل کړی .

پدی ترتیب يې دافغانستان دحاکمیت په دننه کې یو شمیر پوځي جنرالان او دوطن ګوند په سیاسی دفتر کې معلوم الحاله اخیستل شوی افراد د «مجاهدینو» دقومندانانو د یو شمیر وګړو او ډلو په مرسته په یو ګډ پلان کې یو ځای د ۱۳۷۱ کال دحمل دمیاشتی په اخر ی ورځوکې دشهید نجیب الله اود ملګرو ملتونو دپنځه فقره ایز پلان په ضد یوه خاموشه کودتا تر سره کړه . ډاکتر نجیب الله په مرګ تهدید شو او علل اجبار دملګرو ملتونو د ځانګړي استازي په مرسته يې په کابل کې دهغوی دفتر ته پناه یوړه، او پوره څلورنیم کاله یې دملګرو ملتونو په مقر کی تیر کړل . او بلاخره د«۱۳۷۵» کال دمیزان دمیاشتی په پنځمه نیټه کابل ته دطالبانو دلښکر و دننوتلو سره سم دوحشت او بربریت په لاسونو په ډیره وحشیانه، غیر انسانی، غیر اخلاقی او غیر اسلامی طریقی شهید کړی شو .

Paiyam.com www.paiyam.com